ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار

۲۰۱۶/۰٦/۰۸

# امریکی د اور پرتوګ اغوستلی دی

# America Is Wearing Pants of Fire

دوهمه برخه او پای



**1980:** Masood arriving Bazarak to negotiate cease fire treaty with Lieutenant Colonel Anatoly Tkachev, of the Main Intelligence Directorate (MID) of the USSR Army. Masood signed the first of many such agreements with the Soviet Fortieth Army during April of 1980.

## «امر صاحب» او پخوانی پاچا د پیریانو په جنګونو کې؟؟

د کال ۲۰۰۴ په فبروری کې په امریکا کې یو په خیړنه کوټلي کتاب راووت: ستیو کُل، د وشړي او ملکیت یې ونیسي. عبد الرحمن چې پخوانی موئیستي تجسم یې فضل احمد پناه و، د پورتني تبعیضي سیاست اعلامیه (شورای نظار مانیفیستو) لیکلې وه. په دغه اعلامیه کې کارول شوې ژبه په ناراحت کوونکي ډول هغې ژبې ته ورته وه چې د هیټلر په جرمني کې د یهودانو د ټول وژنې (پګروم) لپاره کارول کیدله. ۷۱ مخ. د شورای



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

نظار دغه پښتون – ضد اعلاميه د بغلان پخواني ښاروال او مجاهد سيد باقي الحق حسيني په ډاګه کړه. پيښور، ۱۹۹۰.سيد حسيني دغه اعلاميه په غيبړ کې نيولې او د هغه سره يې عکس اخيستل شوی دی. ولولئ:

Bruce Richardson:" Afghanistan A Search for

پيريانو جنګونه: له شوروي يرغل نه د ۲۰۰۱ د سپتمر د لسمي نيټې پورې د امريکې د مرکزي استخباراتو، افغانستان، او بن لادن پټ تاريخ. نيويارک: پينګوين پريس، ۲۰۰۴. له امر صاحب نه مطلب احمد شاه مسعود دی – څيرکيار:

Steve Coll, The Ghost Wars: The Secret History of the CIA, Afghanistan, and Bin Laden, from the Soviet Invasion to September ۱۰, ۲۰۰۱ (New York: Penguin Press, .(۲۰۰۴

د کتاب په سرليک کې «پيريان» د استخباراتو په مفهوم کارول شوی دی.

ګيري شرون چې په کابل کې د سي. آی. أې. د ځانګې مشر ( ۱۹۹۰-۱۹۸۸) و، بيا په اسلام اباد کې هم د د دغه سازمان مشرشو(۱۹۹۹-۱۹۹۶). سربيره پر دې چې احمد شاه مسعود په سي. آی. آ. کی دوه سوه زره (۲۰۰۰۰۰) ډالر« په معاش» لاره، د کال ۱۹۸۹ د مي په مياشت کې «ګيري شرون پخپله» ۹۰۰۰۰۰(نهه سوه زره) ډالر « د مسعود ورور احمد ضيا ته ورسول.» شرون له مسعود نه هيله وکړه چې د سالنګ سړک دې چې له شمال نه کابل ته ننوځي «غوځ کړي[وتړي].» د خبرو اترو په لړ کې مسعود ومنل چې سر بيره د هغه په مياشتني معاش به دغه کار د پنځه سوه زره(۵۰۰۰۰۰) ډالرو په مقابل کې اجراکړي. په اسلام اباد کې ګيري شرون پخپله دغه مبلغ «د مسعود يوه ورور ته» په پيښور کې د کال ۱۹۹۰ د جنوری په ۳۱ نيټه وروسپاره.[ کيدای شي چې د مسعود دغه ورور به يحيی يا احمد ضيا وي د سي. آی. أې. د معلوماتو له مخې ، مسعود د سالنګ لار ونه تړله. ګيري شرون به ويل چې مسعود ورنه نيم ميليون ډالر« وشکول:

But Massoud'd forces never moved.

له ريچارد کلارک نه واورې چې شل کالونه يې د امريکې په دفاع وزارت کې او د بهرنيو چارو په وزارت کې، او لس کالونه يې په سپينه ماڼۍ کې تير کړي دي. کلارک له ۱۹۹۸ نه د اکتوبر د ۲۰۰۱ پورې په سپينه ماڼۍ کې د ملي امنيت په جرګه کې د تروريزم په ضد چارو کې لوړ او پوخ مامور و، او په مسلکي کړيو کې «د تروريزم په ضد تزار» ګڼل کيده. کلارک د بن لادن په مقابل کې د کلک سياست په پلي کولو ټينګار کاوه. خو د کال ۲۰۰۰په اوړي کې د دې په ضد و چې د احمد شاه مسعود سره دې «ژوره» عسکري ټلواله جوړه شي. دليل يې دا و چې د احمد شاه مسعود ډله ياني شمالي ټلواله « د خلکو يوه ډيره ښه ډله نه» وه. هغوی «د نشه يي موادو ګرځنده سوداګران[ډرګ رَنَرز] دي. هغوی د بشر په حقوقو تيري کوونکي دي. هغوی يو قومي اقليت جوړوي. دا يو داسي شی نه دی چې تاسي به پرې د ملي حکومت جوړول راوڅرخوئ.». وروسته له دې چې بن لادن له سوډان نه ووت او په ۱۹۹۶ کې يې[د مسعود- رباني په واکمنۍ کې] په افغانستان کې پناه ځای وميند، ګري شرون د کال ۱۹۹۶ په سپتمبر کې په کابل کې د دفاع د وزير

احمد شاه مسعود سره وکتل. د دغي کتني هدف داو چي مسعود دي خپل او له نورو نه راټول شوي چيچونکي توغندي په امريکا خرڅ کړي او په بن لادن دامريکي لپاره مخبري وکړي.

لـه افغانستان نه د شوروي پوځونو له وتلـو نه وروسته، امريکي نه غوښتل چي په افغانستان کي دي د سياسي اسلام پلويان (لکه حکمتيار) واکمنی ته ورسيږي. د سعـودي عـربستان استخباراتو له ۱۹۹۰ راهيسي د امريکي د نوي پلان د لګښتونو په پوره کولو کي برخه لرله، خو د مسعـود په اړه يي پـه دوه دلـيلـونو ښه نظـر نـه لاره: يـو داچي ( کـه څه هـم مسعـود سنـي مـذهـبه و) پـه کـلتوري لـحـاظ د فـارسي ژبـي لـه لاري ايـران تـه نـږدي و. بـل داچي د مسعـود پـه شمالـي ټـلوالـه کي شيـعه ګان شامل وو چي د ايـران سـره يي مـذهـبي او ژبـنی اړيـکي لـرلي. امريکي د ولسمشر بيل کلينټن د لومړي پير (۱۹۹۶) راهيسي، مسعـود د دي لپاره استعمالولو چي پـه بـن لادن بـانـدي ورته مخبـري وکړي او يا يي ووژني.




مسعود هڅه کوله چي امريکه د طالـبانو پـه ضـد څرګند جنګ ته راوپاروي – خـود امريکي حکومت پـه دې انـد و چي مسعود نه طالبان ماتـولی شي او نه له کابل نه افغانستان اداره کولی شي.

ريچاډسن: مسعود د شوروي اتحاد/فدرالي روسيي په لوبه کي:

تکړه امريکايي ژورناليست او سوله دوست محقق بروس ريچاردسن په لاندي دوه کتابونو کي د شوروي اتحاد/فدرالي روسيي او د احمد شاه مسعود ترمينځ همکاری را برسيره کړي دي

Brucde G. Richardson, Afghanistan: Ending the Reign of Soviet Terror. Bend, Oregon: Maverick Publications, ۱۹۹٦,second revised edition ۱۹۹۸; Bruce G. Richardson, Afghanistan: a  Search forTruth. Fourth Revised Edition. Free Forum Publications/Canada, ۲۰۰۹
(Source:  Bruce G. Richardson, Afghanistan: A Search for Truth, ۲۰۰۹)

احمد شاه مسعود د ۱۹۸۰ په اپريل کي بازارک ته راغي چي د شوروي پوځ د استخباراتو د مسول کرنيل اناتولي تکاچيف سره لومړی ډزبند  امضا کړي

د امريکي په بـاستن ښار کي، بروس ريچارډسن د ۱۹۹۵ د اګست په ۱۴[۲۳ زمری ۱۳۷۴]، په پخواني شوروي اتحاد  [ ۱۹۹۱-۱۹۱۷] کي  د ماسکو په پوهنتون کي  د تاريخ پوهاند او د کی جی بی عملياتګر اناتولی سـودوپلاتوف سره  مرکه وکړه. ريچارډسن ته يي وويل چي «مسعود زموږ[پخواني شوروی اتحاد] لپاره په افغانستان کي غير رسمي [پټـه] لار وه. دغه شان هغه [د مسکو] په فرونـز عسکري اکاډيمي کي په پټ نوم د خپلو مهمو اشخاصو سره تحصيل وکړ. دا معلومات د ارتيوم  بوريک له خوا په «اوګونيوک»

کې خپاره شوي وو. د نیټې په اړه ډاډه نه یم، کوم وخت په ۱۹۸۳ یا ۱۹۸۵کې» - مخ ۱۳، لمن لیک ۳. اینټر نیټ:۲۹ اګیست ۲۰۱۵

پـه[ عکس کې کیڼ اړخ ته لکه چې کوم پرچمي پوځي وي او شاید مسعود ته به د۱۹۹۲ د مارچ په وروستیو او د اپریل په لومړیو ورځو کې د کابل د نیولو مشوره ورکوي.] – ځیرکیار.

ډاکتر عبدالرحمن چې په فضل احمد فناه هم مشهور و، د مسعود سره په قبیله پالنه (اِتنوسنتریزم) کې غبرګ شوی و. د دواړو همکاري په دې راڅاپیره وه چې په شوروي پوځونو باندې د نورو مجاهدینو د بري مخې ته پاټک واچوي، په شمال کې میشت پښتانه

Truth, ۲۰۰۹, between ۲۱۵-۲۱۷ pages.

په پخواني شوروي اتحاد کې د شوروي یوکراین د کې. جې. بی. مشر ډاکتر الیکساندر فیدوتوف له ۱۹۹۱ وروسته د خپلواک یوکراین د امنیتي خدماتو مشر شو. نوموړی په دې نظر و چې د احمد شاه مسعود شورای نظار له مسکو نه « الهام اخیستلی و ظاهراً» د دې لپاره چې د مسعود «د سیاسي سلطې په مقابل» کې د نورو د عملیاتو مخه ونیسي. ۷۴مخ، ۶ لمن لیک. ډاکتر فیدو تیف زیاتوي: شوروي موظفین ( چې ځیني یې «ما شخصاً پیژندل») په ټوله اشغالي دوره کې د مسعود د حفاظت لپاره ټاکل شوي وو. ریچاډسن، دوهم چاپ ۱۹۹۸، ۷۸-۷۴مخونه.

شوروي کوماندان بوریس ګروموف په «ماشوفسکی کمسومول» کې(۱۳ اپریل ۱۹۹۴=۲۴ وری ۱۳۷۳هجری لمریز) چې «مسعود له ډېر وخت راهیسې زموږ سره اړیکي لرلي او زموږ د اغیز استازی(ایجنټ) و. تقریباً د یوه کال لپاره زموږ مامورانو د هغه سره په خبرو کې وو او هغوی ګډې پریکړې وکړې. او د اوږده وخت لپاره مسعود هغه څه وکړل چې موږ ورته ویل.... په ۱۹۸۲ کې موږ خپل هدف ته ورسیدلو: موږ د احمد شاه مسعود سره داسې اړیکي ټینګې کړې چې له افغانستان نه د شوروي پوځونو د وتلو پورې پاتې شوې.... په ۱۹۸۲ کې شخصاً د احمد شاه مسعود او د شوروي اتحاد د څلورم غونډ د اشخاصو تر منځ تړون رامنځته شو. د دغه تړون له مخې مسعود د دې مخه ونیوله چې په سهیلي سالنګ کې د شوروي پوځ د کاروانونو په مقابل کې فعالیت[بریدونه] وشي.... مسعود خپل پلویان له دې نه منع کړل چې د کابل [د حکومتي قواو] په ضد وجنګیږي، او [پر ځای یې] خپل ټول زور[ د حکمتیار د مشری لاندې] د اسلامي ګوند د غونډونو په ضد وکاروي.» ۸۴ مخ. [ګروموف د څلویښتم پیاده غونډ کومندان و او په افغانستان کې یې درې دورې ( ۱۹۸۳-۱۹۸۰، ۱۹۸۶-۱۹۸۵، او ۱۹۸۷ تر ۱۹۸۹) تیرې کړې وې، او نوموړی وروستنی شوروی عسکر و چې د ۱۹۸۹ د فبروری په ۱۵(۲۶ سلواغه/دلوه ۱۳۶۷) د امو سیند له «دوستی پـُل» نه تیر شو.]-ځیرکیار.

احمد شاه مسعود د ډاکتر کوچي په کتاب کې:

ډاکتر عبدالقیوم کوچی د یرغل شوي افغانستان د اوسني ولسمشر ډاکتر اشرف غني تره کیږي، په کابل کې کومه رسمي وظیفه هم لري او یو کتاب یې هم خپور کړی دی:سیاسي ستونزې او زما

دريځ. مهتمم: تـوريالی ځاخـی. دوهـم چاپ ۱۳۸۹لـینـدئ =۲۰۱۰زیـیـز. لـړ ۳۵. [د خـپـرنـدوی ټـولـني نـوم او چـاپ ځای نه دي چاپ شـوي.] – ځـيـرکيار.

د مسعود – رباني په واکمنۍ کې پرچمي پوځیان او استخبارت ځای په ځای شوي وو، او د روسانو لاسوهـني هم «بیا پیل شوې.». روسانو د مسعـود- رباني او رشید دوستم د رژیمونو د تمویل لپاره پیسې چاپولې او په «کنټینرونو» کې یې وررسولې. روسانو به د مسعود- رباني رژیم په وسلو او نورو پوځي مهماتو غښتلی کاوه ، تیل او لوژیستیکي اړتیاوې به یې ورپوره کولې، او په سیاسي ډگر کې هم د ذکر شوي رژیم په ملاتړ کې ولاړ وو. ولولئ ۲۸۶-۲۸۵ مخونـه. په افغانستان کې د شوروي اتحاد د زمکنیو قواو(ځلوېښتم غونډ) کوماندان جنرال بوریس گروموف د مسعود په اړه په خپل کتاب کې د ډاکتر کوچي په وینا داسې لیکلي دي چې:« ...احمـد شاه مسعود د روسانو سره د سالنگ د لویې لارې په ساتلو کې ډیرې مرستې کړې دي.» دا شوروي/ روسي جنرال کاږي چې« که د احمد شاه مسعود مرستې نه وای روسي لښکرو نشوای کولای چې د افغانستان پښتني سیمو ته ځانونه ورسوي. دی (گروموف] وایي چې د احمد شاه مسعـود ختمول روسانو ته ډیره اسانه خبـره وه مګـر روسانوو د ده څخه ډيرې گټې تر لاسه کـړې.» ۲۹۴ مـخ . ډاکتر کوچی د شوروي جنرال لیاخوفسکي د کتاب په حواله کاږي چې جگرن اناتولي د روسانو «یـو ډیر تکـړه جاسوس و او په فـارسي ژبه یې رواني خبرې کولې [هغـه] د یـوې اوږدې مـودې دپـاره د مسعـود سره یـوځـای اوسـیـده او مسعـود تـه یې کـیـن او کمونیـستي فـکـرونــه او بنـسـټـونـه ورپـیـژنـدل.» ۳۳۷تر ۳۳۸ مخونه. ډاکتر کوچی د لیاخوفسکي د کتاب په حواله کاږي: شـورویانـو/روسانـو غـوښتل چې لومړی دي مسعود «د یـو ملي قهـرمان په تـوگه ومنل شـي» او «بیـا» دې روسان «له ده سره نژدې شي او په گډه سره خپلې سیاسي گټې تر سره کړي.» - ۳۳۸ مخ

## احمد شاه مسعود د شوروي جنرال لیاخوفسکي په کتاب کې:

جنرال لیاخوفـسکي، د افغان میـرانه او غـمیـزه. ژباړن: محب الرحمن. خپرندوی: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه- جرمني. د چاپ نیټه: ۱۳۷۸لمریز= ۲۰۰۰زیـیـز. جنرال الکساندر اناتولیویچ لیاخوفـسکي اوږده موده د شوروي اتحاد د وسله والو تورن پوځونو په ستر درستیز کې دنـده لـرلـه او د شوروي پـوځونو په وروستني پـړاو کې یې ، په افغانستان کې د شوروي اتحاد د دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې د مشر ستر جنرال و.

احمدشاه مسعود اسلام او تاجکي ولوله غبرگ کړل، سوکه سوکه یې په پنجشیر کې خپل اغیز زیات کړ، او د «ترهگرې عملیاتو» په مټ یې په خپله سیمه کې په دې بریالی شو چې «خپل ټول سیال ډلمشران چې د مشرۍ دعوه یې کوله ډیر ژر یو په بل پسې له منځه یوسي او خپله بشپړه برلاسي ټینگه کـړي»، او په پایله کې د ځان لپاره د «نـیکمـرغه» (مسعـود) تخلص غوره کړي. [ډاکتر حسن شرق هم په خپل کتاب (کرباس پوشهای بررهنه پا) کې د هغه مهال د شوروي اتحاد د مشر گورباچوف له خولې لیکلي وو چې مسعـود دې مسعــــودستان جوړکړي]. مسعود په دې اند و چې

په افغانستان کې «هيڅ يو رژيم برى نشي کولى، خو دا چې د شوروي اتحاد «ملاتړ او دوستانه اړيکې» يې په برخه شـوي وي. شوروي څارګرى (استخباراتو) هم د مسعود سره اړيکي پاللي. د بیلګې په ډول، ډګرمن اناتولي ښايسته ډیر وخت د مسعود «په استوګنځي کې تیر کړ او په دې ترڅ کې يې له هغه سره اړونده کار پر مخ بيوه.» دغه شان مسعود يې د شوروي «ژوند له بڼې او مارکسيزم د بنسټ ايښودونکو له ليکنو سره هم بلداوه.» خو لياخوفسکي په دې پوهیږي چې د دغه «کار د پايلو لپاره لاڅه نا څه وخت ته اړتيا وه.» دغه شان «ژمنه يې وکړه» چې په پنجشير کې به د شوروي او[افغان] حکومتي ځواکـونو پر ضد عمليات «هم نه تر سره کوي. برسيره پر دې هغه [مسعود] لوز وکړ چې په خپله سيمه کې به د نورو ګوندونو ياغيانو ته هم اجازه نه ورکوي چې ورته عمليات تر سره کړي او د خپل مسوليت له سيمې نه د هغو د وسله والو ډلو، وسلو او مهماتو د کاروانونو د تيريدو مخه به هم نيسي....» جنرال لياخوفسکي زياتوي چې :«که رښتيا ووايم نو مسعود خپلې ټولې ژمنې په بشپړه توګه پلې کولې....»۴۵۵-۴۵۴مخونه.

جنرال لياخوفسکي د مسعود ځانګړتياوې داسې راپيژني: مسعود «يو تکړه، مړخړپى، پټ کارى، محتاط او واک خوښوونکى سړى دى. د احمد شاه د نږدې چاپيريال له څيړنې نه سړى دې پايلې ته رسيږي چې هغه د خپلو کسانو په ډله کې په هيچا باور نه لري.... نوموړى هميشنى استوګنځى نه لري او تل يې بدلوي.» ۴۵۷-۴۵۶ مخونه.

په ۱۹۸۸ کې چې د ژنيو توافقات لاسليک شول، او له افغانستان نه د شوروي پوځونو د وتلو خبر خپور شو، مسعود دغه نوې صحنه د افغانستان په شمال او شمال ختيز کې «د اسلامي دولت» د جوړولو لپاره ګټوره و ګڼله، او له دې امله يې د شوروي پوځونو «پر خلاف جګړه ييز عمليات په ټپه ودرول.» خو په مقابل کې يې په جولاى – اګست کې د اسلامي ګوند(حکمتيار) د عملياتو په ضد د کاپيسا او پروان په ولايتونو کې«غوڅ او کارنده جګړه ييز عمليات پيل کړل.» ۴۶۱-۴۶۰مخونه. سره له دې چې په سياسي ډګر کې د مسعود «دريځ لا تر اوسه په بشپړه توګه نه دى ټاکل شوى، خو پښتنې ضد کرکټر يې بيخي په ډاګه دى. د شورويانو لپاره «معقوله ده» چې د مسعود سره د «مخامخ اړيکو» پالنه وغځوي. «پخپله د شوروي اتحاد د دفاع وزارت د اوپراتيفي ډلې مشرتابه او د څلويښتمې اردو کومندانى هم» په دې «ټينګار» کاوه چې د مسعود د ډلو په ضد له عملياتو نه دې ډډه وشي. په يو پټ لاسوند[سند] کې د شوروي اتحاد د دفاع وزير ستر جنرال يازوف ته داسې ليکل شوي دي:«رپوټ درکوم چې....احمد شاه [مسعود] په غوڅه توګه خپلو ډلو ته ويلي چې د شوروي پوځونو پر خلاف جګړه ييز عمليات ونکړي او ډلې يې هم دغه خبره پرته له ولې او څنګه» منلې ده. ۴۶۳-۴۶۲ مخونه.

د موجود افغانستا کې راتلونې «کورواي» تاجکستان او د پاتې افغانستان ه اړه جنراپه اړه جنرال لياخوفسکي د مسعود سره «د څيړنې وړ پوښتنې» شريکې کړې دي: (۱) په [اوسنې] واحد افغانستان کې د بدخشان،تخار او بغلان ولايتونو او د پروان او کاپيسا د ځينو برخو په ګډون د کورواکه (خودمختاره) تاجکستان د جوړولو موضوع او دغه شان د افغانستان په دولت کې د تاجکانو

د استازيتوب او ځانګړو څوکیو موضوع ګاني. (۲) [د پنجشير] اسلامي جمعیت په افغانستان کې د یوه حق برابري (مساوي الحقوق)او خپلواک ګوند په څیر په رسمیت پیژندل. (۳) د افغانستان په وسله وال پوځ کې د کورواکه تاجکستان د منظمو ځواکونو رامنځته کول، او د حیرنان – کابل د لارې ساتنه. (۴) د شمال ختیز ولایتونو(کورواکه تاجکستان) په اډانه کې د سولې ټینګول او د خلکو اقتصادي وضعې او پرمختګ ته پاملرنه. (۵) د شوروي تاجکستان د جمهوريت او په افغانستان کې د کورواکه تاجکستان تر منځ د سرحدي سوداګرۍ او فرهنګي اړیکو ټینګول.

«زما [لیاخوفسکي] له خوا د دغو درلیږل شوو پوښتنو په باب په افغانستان کې د شوروي سفير يو. م. ورنڅوف او ستر جنرال و.[ولانتين] اي.[ايوانويچ] وَرينيكوف سره هم خبرې شوې او هغوی... په دې اړه د هیواد له مشرتابه سره پوهاوي ته رسيدلي دي.» دغه مطرح شوې موضوعګانې، په سويلي سالنګ کې د مسعود د ډلو د يوه ډلمشر مُلا غوث له لارې مسعود ته استول شوې وې. د مسعود په غبرګون کې ځرګنده شوې وه چې نوموړی د دغو موضوعګانو د څیړنې لپاره خبرو اترو ته «چمتو دی او په دې اړه ځينې نور وړانديزونه هم لري.» لیاخوفسکي کاري چې «هر کله به» د مسعود سره د شورویانو د خبرو اترو په اوږدو کې «لږ څه پرمختګ» رامنځته شو، [افغان حکومتي ځواکونو] به یې پر ضد «یوناڅاپه» عملیات پیل کړل. ۴۷۲-۴۷۱ مخونه. د شوروي جنرال لیاخوفسکي په کتاب کې دا پایله پام وړ ده:« کیدای شي په راتلونکی کې له احمدشاه [مسعود] نه يو داسې ستر سیاسي شخصیت جوړ شي چې شوروي اتحاد ته به په کار وي له هغه سره د همکارۍ اړیکې وپالي. له همدې امله زموږ لپاره په کته ده چې هغه زموږ انديوال (متحد) وي نه غلیم.»۴۶۴تر ۴۶۵مخونه.

## مسعود «جاسوس همه کس»:

ډاکترمير عبدالرحیم عزیز د۲۰۱۵ په سپتمبر کې «مسعود جاسوس همه کس» ګڼلی دی او په خپله لیکنه کې يې د يوناني مورخ ډاکتر دیمیتراکیس په لاندې کتاب اتکا کړې ده:

چطور افغانستان دستخوش طرحهای استعماری گردیده و چطور متجاوزین شرق و غرب از احمدشاه مسعود حمایت کرده و سر انجام اورا منحیث یک ,,قهرمان,, دروغین در کشور و مردم ما تحمیل نموده اند. عمال مورد جمایت سازمان های استخباراتی کشور های مختلف در افغانستان موظف شده اند که از خیانت های احمد شاه مسعود به افغانستان به دفاع برخاسته و هر عمل ضد ملی او را یک نوع عملکرد استثنائی

زادۀ نبوغ این فرد خاین به مهین جلوه داده و آنرا یک پیروزی در ,, نبرد استخباراتی,, معرفی بدارند.» د ذکر شوي کتاب په ۱۶۶ مخ کې راغلي دي چې: «در جنوری ۱۹۸۳، مسعود با کلونل اناتولی تاچف مربوط به جی آر یو(استخبارات وزارت دفاع شوروی) ملاقات نمود و گفت که او دشمن شوروی و مردم شوروی نیست.» د ډاکتر عزیز لیکنه په لاندې ویب پاڼه کې لوستلی:

[www.afgazad.com Date: ۹ September ۲۰۱۵

By: r. rer. pol. Rahmat R. Zirakya
zirakyar۱۲۳٤@yahoo.com
جون ۲۰۱۶= ۱۳ غبرگولی ۱۳۹۵لمریز ۲

**پـای**